انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۰۸/۱۸

# د وطن د آزادی د اته نویمی کلیزی په ویاړ

د ۱۲۹۸ کال د اسد له ۲۸ تمی نه تر د ۱۳۹۶ کال د اسد تر ۲۸ یا ( د ۱۹۱۹ع کال ل د آګست له ۱۹ نه تر د ۲۰۱۷ ع کال د آګست تر ۱۹ سمی) نیتی پوری، د انګریز له استعماری دولت څخه د ګران وطن افغانستان د سیاسی آزادي د اخستني څخه  پوره اته نوی کاله تیر شول. یو له هغو هیوادونو څخه چی زمونږ د هیواد سره یوځای آزاد شوی دی د جاپان هیواد دی. جاپان د ټولی دنیا په هیوادونو کی یواځنی هیواد دی چی د دویمی نړیوالی جګړی د پای ته رسیدو په درشل کی یعنی د اګست  په(شپږم / ۱۹۴۵) کی د دی هیواد د هیرو شیما ایالت او دری ورځی وروسته یا د اګست په (۹) مه نیټه یی د ناګا ساکی ایالت د امریکا د متحده ایالاتو له خوا په آتومی بمونو ولګیده او دومره ژوبل شو چی لا تر اوسه یی هم له هماغو زخمونو نه وینی څاڅی. خو په اقتصادی لحاظ د جاپان هیواد نن د شتمنو هیوادو په لومړی صف کی ولاړ هیواد دی.

ممکنه ده چی د جاپان د هیواد دا پرمختګ په بیل بیل عوامل ولری خو زما په اند تر ټولو لوی به یی داوی:

۱ـ په جاپان کی هم د افغانستان په څیر بیل اقوام ژوند کوی او د افغانستان نه په کمه ساحه کی نژدی د افغانستان دری برابره خلک اوسیږی، خو تر منځ یی لوی توپیر دادی چی د جاپان ټول اقوام د یوه واحد ملت په څیر عمل کوی او ټول په یوه ډول د خپل ملت ملی ګټو ته ژمن دی.

۲ـ  جاپان د افغانستان په څیر په دومره حساس موقعیت کی چی د لویو قوتونو د پاره په زړه پوری او د دوی ګټی ورپوری تړلی وی نه دی واقع شوی.

۳ـ د جاپان جغرافیه د طبیعی زیرمو له درکه د افغانستان په څیر غنی نه ده، نو له همدی کبله د لویو قوتونو د دوامداره مداخلو له کړاو نه په امن کی ده.

۴ـ او بلاخره جاپانی انسان په طبیعی او ارثي توګه د نړۍ د ډیر زحمت کش، پُر کاره او یو بل سره د اخلاص من او بنه لاس ورکونکی انسان په توګه پیژندل شویدی او برخلاف په افغان انسان کی تر ټولو انسانانو نه دا صفتونه کمزوری دی.

شاید داسی به نور هم ګڼ شمیر د لایل موجود وی چی زمونږ افغانی ټولنه یی پرمختګ او لوړ تیا ته نه ده پریښی، خو زما په اند زمونږ د وروسته پاتی والی تر ټولو لوی دلیل  زمونږ په په خاوره د پردیو دایمی بلوسیدل او تیری او



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

زمونږ له نا لوستی توب نه په ګټې اخستو سره زمونږ تر منځ د یو والی او ښې همکاری مخنوی دی. که مونږ په همدی تیرو اته نوی کلونو کی د خپل هیواد د تاریخ پاڼی راواړوو، نو په اسانی سره به و پوهیږو چی: په دی نژدی سلو کلونو کی یواځی دری کرته افغان چاراواکو او ټولواکو هڅه کړیده چی د سیاسی ازادی تر څنګ باید اقتصادی آزادی ولری تر څو خپل ملت په مکمله توګه آزادی ته ورسوی، ځکه له اقتصادی آزادۍ پرته سیاسی آزادی نه یواځی داچی نیمګړې ده بلکی بی معنی هم ده.

لومړی کرت د افغانستان د آزادی محصل او د انګریزی ښکیلاک څخه د شرقی هیوادونو د ازادیدلو لوی محرک اعلیحضرت غازی امان الله خان هغه څوک و ، چی د هیواد د اقتصادی خپلواکی او پر مختیا د پاره یی په ډیر سرعت سره ګامونه پورته کړل او د یوه داسی دولتی سیستم د جوړیدلو هڅه یی و کړی چی قانو پکی حاکم وی، ځکه هغه په دی پوهیده چی یوه بی قانونه او بی بندو باره ټولنه هیڅکله نه پرمختګ کولی شی او نه اقتصادی خپلواکی ته رسیدلی شی. د هغه همدا درک او اراده د دی سبب شول چی مکار دښمن لاس په کار شی او د جاهل، مزدور او بی تمیزه روحانیت د ناروا تبلیغ له امله په ولسی خلکو کی د دی ستر وطنپال ملی رهبر په وړاندی په پرله پسی توګه خنډونه جوړ کړی او بلاخره هغه دی ته مجبور کاندی چی د خپل ملت له وژلو، وینو تویه ولو او د خپل هیواد له ورانولو پرته دولتی قدرت د غلو ډلی ته پریدی او له هیواد څخه بیرون ته و لاړ شی.

د غازی امان الله خان تر سلطنت را وروسته بیا په دی هیواد کی د اقتصادی پرمختګ او استقلالیت د پاره د افغان دولتی زمامدارانو له خوا داسی کوم اساسی ګام پورته نه شو چی د لویو قدرتونو مخ ځانته له دی کبله راواړوی، چی ګوندی دا هیواد به په خپلو پښو د دریدو له کبله ددوی له منګولو ووزی. خو کله چی د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د سلطنت په وروستیو یا د دمو کراسی د دوری په اواخرو کی د هیواد یوه روښان ضمیره صدراعظم شهید محمد موسی شفیق داسی و پتیله چی د ګاونډیو هیوادونو سره د معضلو د حل نه وروسته خپل هیواد چی په نیمای بڼه د روس یا پخوانی شوروی اتحاد منګولو ته لویدلی و، آزاد کاندی او د نړۍ د نورو هیوادونو سره د نوو اړیکو په رامنځ ته کیدو سره خپله افغانی ټولنه اقتصادی آزادۍ ته ورسوی، د روس نو کران د سردار محمد داود خان په پوستکی کی ورننوتل او د دی د پاره چی د صدراعظم شفیق پلان عملی نه شی د ظاهر شاه تخت و بخت یی هم والوزاوه او د نوی جمهوری نظام نغاره په هیواد کی و کړنګیدله. په دی تغیر سره افغان ولس نه یواځی داچی خواشنی نه شو ډیر خوښ هم شو، او داسی تفکر را وزیږیده چی د بیدارۍ مرحله را ورسیده او ګوندی اوس به دا ملک د ژوندانه له ناوړو حالاتو څخه چی ډیر انسانان پکی له لوږی مره کیدل او د وطن ځوان قشر لکه د افغانستان د سیندونو د اوبو په څیر د کار دپاره نورو هیوادونو ته روان وو، خلاص او په خپل هیواد کی به د کار او یوی مړی ډوډۍ خاوندان شی. خو له بده مرغه داسی و نه شول او د شوروی پلوه عناصرو د نفوذ له کبله تر لنډی مودی وروسته په جمهوری نظام هم افغان ولس خپل باور له لاسه ورکړ. کله چی شهید سردار محمد داود خان و پوهیده چی (دا لاره ترکستان ته نه ده تللی) ، نو هڅه یی وکړه چی د شوروی له پلویانو نه خپله دولتی اداره ( خصوصاً لوړ او باصلاحیته پوستونه) خالی کاندی او هماغه پلان چی شهید شفیق د پاچا ظاهرشاه په مشوره او موافقه په لار اچولی و، لا نور هم په مؤثره توګه په عمل کی پلی کړی او د نوری دنیا په مرسته د شوروی اقتصادی زنځیرد خپل هیواد له غاړی نه لری کړی. بیا هم هماغه پیښه وشوه او دثورد خونړۍ کودتا په نتیجه کی سردار محمد داود خان په ډیری بی رحمی د خپلی

ټولې کورنۍ سره یوځای په شهادت ورسیده او د هغه د اقتصادی آزادی پلان هم له سقوط سره مخامخ شو. تر هغې راوروسته بیا افغانستان د داسی یوه دولتی زعامت لرونکی نه شو چی د سیاسی آزادی د تکمیل په غرض داقتصادی ازادۍ د لاس ته راوړلو پاره یا هلې ځلې وکړی او یا په دی تکل کی شی چی د افغان خورو ورو ولسونو نه یو واحد ملت جوړ کاندی. له بده مرغه اوسنی دولتی چارواکی په ډیر شدت سره په دی اخته دی چی څنګه د دی هیواد د بیلو قومونو د عوامو تر منځ نیکی او د د وروری اړیکی په دښمنی بدلی کړی او په دی توګه د ځانی ګټو د پاره ټولې لوی او وړی ملی ګټی د زیان او نابودۍ سره مخ کاندی.

که څه هم داسی ښکاری چی جمهور رئیس محمد اشرف غنی ډیره علاقه لری او ډیر زیار هم باسی چی هم د افغان قومونو تر منځ ملی یووالی را منځ ته شی او هم په مثبته توګه د اقتصادی پیاوړتیا د پاره کار وکړی، خو متل دی چی( په یوه ګل نه پسرلی کیږی)، نو دا هیله هم ډیره کمه ده  چی افغان ملت دی د جمهوررئیس کاری ټیم ته او په مجموع کی د ملی یووالی دولتی زعامت ته په کتو سره په دی باوری شی چی ګوند د غازی آمان الله خان، شهید محمد موسی شفیق او شهید محمد داود خان ارزو ګانی دی په اسانۍ سره پوره شی او افغانان دی د کاملی آزادۍ مالکان شی. والله اعلم.

په هر صورت ټولو افغانانو ته دی د وطن د آزادی اته نویمه کلیزه مبارک وی. د یوه مکمل آزاد او پر مختللی افغانستان د لیدو او جوړیدو په هیله. کلیوال

د آګست /۱۸/۲۰۱۷

تورنتو ـ کانادا